AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت ۲۰۲۴/۰۳/۳۱

# پاکستان په خپلو نا امنیو کې بیا افغانستان ښکیل کړي

پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له لړۍ چوپتیا نه وروسته یو ځل بیا د چیناي وګړو په وژنه کې افغانستان ته ګوته ونیوله او په دغه هېواد کې د ناامنیو لامل افغانستان یاد کړ.

په پاکستان کې د چیناي وګړو پر وړاندې په ځانمرګي برید کې چې د پنځه و چینایانو د مړینې سبب شو، په هماغه ورځ د خیبر پښتونخوا تلویزون په خپرونه کې د دغه هېواد پیژندل شوی خبریال او څېرونکي حسن خان دا یادونه کړه، چې د چینایانو پر وړاندې د اوریکو په دغه ځانمرګي برید کې به بیا افغانستان ته ګوته نه شي نیول کیداي، ځکه د ده په اند، د چینایانو پر وړاندې له دی مخکې هم څو واره داسې پیښې رامنځ ته شوي دي او دوي د دغه ډول پیښو ښکار شوي دي.

ښاغلي حسن خان وویل:« دلته خو هیڅ پوښتنه نه پیدا کیږي،ځکه په تیرو کلونو کې څو ځلې پر چینایي کارکونو باندې مرګوني ګوزارونه شوی دي».

دغه راز د اریانا تلویزون په خبر کې راغلي،چې روتیرز خبري آژانس رپوټ ورکړي د داعش خراسان څانګۍ ۲۹کلن مشر د پاکستان په بلوچستان ایالت کې اوسیږي. د دغه خبری اژانس د رپوټ په حواله د داعش خراسان څانګې مشر ثنا الله غفاري چې مشهور په شهاب المهاجر دی دغه ډله یې د داعش په ډېرې خطرناکې او خونړی ډلې اړولې ده.

اوس اصلي خبره دا ده، چېرته چې ستونزه وي په هماغه ځاي کې دي پلټنه او درملنه وشي. د دی ټولو ترهګرو ډلو اصلي هستونکي خو په خپله همدا پاکستان دی، نو بیا ولې د خپلو ناکامه کارنامو پایله نه مني.

د بي بي سي په نړی دا وخت خپرونه کې په پیښور کې د پوهنتون استاذ ډاکټر عرفان اشرف وویل:« له مسولیت نه باید تیښته ونه شی. دلته که خیبر پښتونخوا ده او که بلوچستان دی، د ځای وګړو ستونزو او اړتیاو ته باید پاملرنه وشی. د دغه ټولو ترهګریزو اعمالو پیره پر افغانستان یا هند ور اچول د پاکستان د امنیتي ادارو له مسولیتونو څخه تیښته ده او دا د ستونزې حل نه دی».

د ده په اند ټولي ترهګرې ډلې همدلته په پاکستان کې شتون لري او څنګه کیدای شي،چې له افغانستان څخه په دومره لرې واټن کې اوریکي راځي،دلته خپل اهداف په نښه کوي او د پاکستان امنیتي ادارې پرې نه خبریږي. ځکه خو ویلی شو،چې خبرې اساني دي، چې پېره پر بل چا واچوئ.

د افغانستان د داخله چارو وزارت وایي، چې د داعش په افغانستان کې زپل شوی او د دي توان نه لري، چې نور د هېواد له پاره خطر اووسي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ